مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۳/۱۹

# دا مو څه وکړل؟



د کرزي صیب د واکمنی لومړۍ ورځې وې. کور مو کوټه سنګي کې و. کور ختین و. مخې ته یې کوڅه وه. یو د لرګیو لوی ور یې درلود، چې ور داخل به شوې مخامخ زموږ کور و او بیا د تنګې کوڅې پای کې د ګاونډي.
په هغه ورځ چې په همدې عمومي دروازې ننوتلم؛ د دوه ښایسته ماشومانو، له خپل پلار سره شور و. هغه ورته بازار ته د تللو عذر او زارۍ کولې؛ خو ماشومانو په ژړا انکار کاوه.
ما مداخله ونکړه، په خپل کور ننوتلم؛ خو له ګنو پوښتنو سره.
***
په هغه شپه بیخي ډېره واوره شوې وه. نیمه شپه انګړ ته راووتلم، سترګې مې و برېښیدې، لکه په ټول انګړ چې کفن غوړېدلی وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یو غړ مي تر غوږونو شو. غږ له کوهي څخه د اوبو د را ويستلو او بيا د چپه کولو و. رښتيا خبره وي؛ وه ويريدم. دا نيمه شپه او دا غږونه.
بله ورځ له همدې ګاونډې سره مخ سوم. ده به غلا کوله، چي ښکار به يې برابر شوی و، خوشاله به و او چي کله به ګير شوی و؛ نو پوزه به يې ويني او مخ به يې تک شين و .
تري ومي پوښتل:
راته ويل يې:
بيادره، زه تباه يم، برباد يم. په هغه ورځ دې وليدل چي ماشومانو مي ژړلي او بازار ته راسره نه تلل. هغوی راته ويل چي ته مو بازار کې خرڅوې، موږ در سره نه ځو!
له دې سره يې سترګې ډنډ شوې.
شيبه غلی و. بيا يې سکوت مات کړ:
پوډر مي پرې ايښي. نيمه شپه مي بدن کې اور بل شي او بيا له کاليو سره په ځان اوبه اړوم. هغه شپه چې دې کوم غږونه اوريدلي و، هغه هم زه وم.
های های ظالمانو!
تاسو زموږ دغسي خلک بمبار کړل چي له کورنی رټل شوي وو. خپل ماشومان تري ويريدل؛ خو بيرته يې له کورنی سره د يو ځای کيدو خوبونه ليدل. بيرته په سالمو انسانانو بدليدل.
دوی ته خپل ماشومان او مور و پلار په تمه ول. هغه ميرمني ورته په تمه وې، چي له دوی سره يو ځای په جهنم کي سوزيدلي وې؛ خو بيرته يې د جنتي ماحول جوړولو خوبونه ليدل.
وحشيانو!
جابرانو!
سنګيندلو!
دا مو څه وکړل؟
تاسو خو د سلګونو کورنيو پر اميدونو خاوري واړولي.
خدای ج دې پر تاسو خاوري واړوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ